مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملكزی

۲۰۲۴/۰۶/۲۳

# آیا موږ یو امت یو؟

د ۲۰۲۱م کال د ډسمبر په ۲۵ نیټي، د امریکا هوایي څیړنو اداري (NASA)، اروپايي ټولني او کاناډا د یوې ګډې پروژې په توګه د جیمز ویب په نوم یو تلسکوپ هوا ته وتوغولو چې لس ملیارده ډالره لګښت وربانديې شوی وو. اصلي موخه یې دا وه چې له نن څخه د نژدې څوارلس ملیارده پخوا د ستري چاودني (Big Bang) تیوری ته عملي بڼه ورکړي او د کهکشانونو انځورونه واخلي. قرآن کریم د الأنبياء د سورت په دیرشم آیت کې د خلقت پیل ته داسي اشاره کوي (أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا - آسمانونه او ځمکه یو له بل سره نښتي وو، بیا موږ جلا کړل).

د ۱۹۶۹م کال د جولایي د میاشتي په شلم تاریخ، د امریکا نیل آرمسترانګ د لومړني انسان په توګه د خپلې هوایي بیړی څخه راووت او د سپوږمی پرمخ یې قدم کیښود. خو ۵۵ کاله وروسته، موږ نن هم د سپوږمی د مدار او افق د میندولو او پیژندلو څخه عاجز یو. تیره اوني، د ۵۷ اسلامي هیوادونو له ډلي څخه اوه خلوېښتو یې د یکشنبي او لسو هیوادونو د دوشنبي په ورځ د خلیل د سپیني ږیرې او تنکي ذبیح د سربښندني اختر ونمانځلو. خو بیا هم وایو چې یو امت یو.

په جوماتونو کې مو کمرې لګولی چې څوک د چا جب ونه وهي، څپلی غلا نه کړي او د چندې صندوقچه ونه ټېټوي، د بي اعتباری په همدې زاره چاودي چاپیریال کې بیا هم په جار سره وایو چې یو امت یو؟

کله چې ستا د ګټي وټي سیزن شي نو دروازه پرانیزې، خو چې زما وار شي بیا دروازه کلکه وتړې. پخپلو اوبو کې زه له تندې سوځم او چیغې وهم چې اوبه راکړه، ته راپورې خاندې خو بیا هم وایو چې یو امت یو.

د خپلو مقدساتو زیارت او لیدلو ته بې له ویزې او اجازې نه شو تللای، خو بیا هم وایو چې یو امت یو.

همدا تیره میاشت، د امریکا پخوانی ولسمشر او د دې هیواد ډیر څواکمن کس، ډونالډ ترمپ د منصفه هیئت له خوا په ۳۴ تورونو ګرم وګڼل شو او د برحاله ولسمشر جو بایډن زوی، هنټر بایډن څو ورځې وړاندې په دریو تورونو کې ملامت حساب شو. آیا زموږ د سیمې په هیوادونو کې څوک د خپل مشر او ټولواک له مجرد عکس سره د طنز کومه شوخه جمله هم لیکلای شي؟ محاکمه خو د خوب لیدل دي! همدا شان، کله چې په ټولني کې په یو بې وسه باندې ظلم زیاتي وشي، نو ورته وایې چې په آخرت کې به درسره ګورم. دا ځکه چې موږ د سرو سترګو ځای نه لرو او عدالت د زورورو اشارې ته ګوري، خو بیا هم ځان یو موټي او برابر امت ګڼو.

موږ د ۷۳ په ځای، په ۳۰۰ مذهبي او طائفي ډلو باندې ویشل شوي یو. د کفر، ارتداد، فسق او زندیقتوب ټاپې په جیبونو کې ګرځوو. فتوی له منبر څخه سنګر ته کده کړې، ځیني مذهبي توند لاري خو لا د بې مذهبو سره نکاح ناروا بولي. د یوې فرقې مقتدي د بلې ډلې د امام پسې اقتداء نه کوي او کله ناکله خو په یو جومات کې دوه محرابونه جوړوو، ولی بیا هم وایو چې یو امت یو؟

د دې وروستی نیمې پیړی د ټولو جنګونو ۷۵ سلنه د همدې امت د بچیانو ترمنځ دي، ترټولو ډیرې وسلې همدوئ اخلي او یو د بل په خلاف یې په ډیرې بې رحمی سره کاروي، خو بیا هم وایو چې یو امت یو.

د یو هیواد، یوې جغرافیې، یو اقلیم او ګډو ملي ژبو ویونکي یو؛ ولی ځیني جنابان ځانونه د افغان په ځای افغانستانی او حتی د خیالي خراسان هستوګن بولي. خپل د زرګونو کلونو ټاټوبی او پلرنی خاوره د اغیار د تمدني حوزې برخه بولو، خو بیا هم باتې وهو چې د یو امت بچیان یو!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د اروپا د اتحادیې ۲۷ غړي دي، دوئ نه خپلمنځي سرحدونه لري او نه دلته ویزې ته اړتیا شته؛ یو پارلمان دی او یوه یې سکه (یورو) ده. ما څو کاله وړاندې شپږو اروپایي هیوادونو ته سفر درلود. نه یوازې زه نه پوهیدلم چې موږ د کوم هیواد په هاى وې (غټې جادې) کې روان یو، بلکې زما دواړه ملګري چې هماغلته اوسیدل؛ د لوحو له خطونو څخه یې معلومولـه چې دا د کوم هیواد ژبه ده؟

په لویدیزې نړۍ کې ټول وګړي د خپلو مشرانو او سیاسیونو په لاس جوړو شوو قوانینو ته ژمن دي او هغه د ژوند لپاره سرې کرښې ګڼي. نو اوس دا تله او ډنډه ستاسې په لاس کې ده چې د یو رښتیني، عملي او یو موټي امت ښه تمثیل موږ کوو، که د اروپا د مختلفو قومونو، ژبو، پرګنو او سیاسي لیکو لارویان؟ الله مې دې زاړه ایمان ته خیر کړي.

—————————————

یادونه: که لوستونکي وخت او علاقه لري، نو کولای شي د ملکزي نوري لیکنې او څیړنې د هغه په فیسبوک، لنکد ان او د یوټیوب په چینل کې ولولي او وګوري؛ ادرس یې دا دی: Wali Malakzay

د لیکوال نورې لیکن لیکنې په دې لینک کې ولولې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ